مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۴/۰۱/۲۲

# «دختر هزاره»

آ- های
«دختر هزاره»!
د دغه باغ د رنګینه ګلدستې ښکلې غوټۍ
د بادامي سترګو خوږې ناوکۍ
اې د بابا د غره له هسکو نه راغلې هوسۍ
پاڅه!
رڼا واخله او شپه وینښه کړه
د مذکر ښکېلاک په وړاندې غلغله وینښه کړه
آ- های
«دختر هزاره»
له هسک شمشاده
تر ځپاند هلمنده
له هیندوکوهه
تر یاغي میونده
چاربیتې واخله او ټپه وینښه کړه
له دمبورې سره چمبه وینښه کړه
نازو ته لاس ورکړه او ښکلې زرغونه وینښه کړه
د مذکر ښکېلاک په وړاندې غلغله وینښه کړه
آ- های
«دختر هزاره»
یه زموږ د هسکو لوړو غرو او اپلېندونو لورې
هغه چې وايي درته
«این نموشه!»
«آن نموشه!»
زه يې ستا سترګو کې له ورایه لولم
چې:
نه! نه!
«موشه!
موشه!»
هو زه باور لرم، چې:
«موشه!
موشه!»
نو یاالله ګام راواخله
د یما جام راواخله
روح د باګرام راواخله
راځه،
راپاڅه او دا شپه وینښه کړه
د مذکر ښکېلاک په وړاندې غلغله وینښه کړه!





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ